مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۹/۰۷

# نن په زړه راته سر کیده!

راځه د سیني تخت ته، نن په زړه راته سرکیده
له مینی جوړبالښت ته، نن په زړه راته سر کیده

روان دی وخت تیریږی، خزانیږی د ځوانی ګل
راتاو شه لکه لښته، نن په زړه راته سر کیده

یوځوشیبی خو واوره، شور او زوږ د مین زړه
سبا به وی نا وخته، نن په زړه راته سر کیده

لا نه ده رسیدلي، د پخلی تر پولي مینه
ده لاره مخکی سخته، نن په زړه راته سر کیده

کلونه په ما تیر شول، د بل وخت په تمه تمه
بل وخت پریده بل وخته، نن په زړه راته سر کیده

ډیرسوی په سره اور دی، دا د غوښنی زړه بی تا
لږ یوسه غریب یخ ته، نن په زړه راته سر کیده

قبوله کړه یو نن ، د کلیوال یوه غوښتنه
بیا نه در ځم و مخ ته، نن په زړه راته سر کیده

اګست/۲۰۱۸
تورنتو ــ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ